په نيکو عملونو کې بيړه وکړئ - مخکې له دې چې - لکه د تورې شپې د يوې برخې په څېر فتنې مو لاندې کړي -

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «په نيکو عملونو کې بيړه وکړئ - مخکې له دې چې - لکه د تورې شپې د يوې برخې په څېر فتنې مو لاندې کړي - چې يو سړی به سهار مهال مؤمن او ماښام کافر وي، او يا به ماښام مهال مؤمن او سهار کافر وي، هغه به خپل دين د دنيا د ګټې په بدل کې پلوري».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مؤمن هڅوي چې په نېکو کارونو کې بيړه وکړي، مخکې له دې چې ناشوني شي او د فتنو او شبهو په راتګ سره تري بوخت شي؛ چې هغه يې د نېکو عملونو څخه منع کوي، دا فتنې به د شپې د تپې تيارې په څېر وي؛ چې حق به پکې له باطل سره ګډ شوی وي، د خلکو لپاره به د دوی ترمنځه توپير ستونزمن وي، نو ځکه يې د شدت له امله انسان بد حواسه کيږي، تر دې چې يو سړی به ماښام مومن وي او بېګا کافر، او بېګا به مؤمن وي او سهار کافر، خپل دين به د دنيا د له منځه تلونکي خوند لپاره پرېږدي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3138